مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سمیع الدین افغانی

۲۰۱۸/۰۸/۲۷

# دهجران غم

دا چې نه د هیریدو دی د جانان غم
ژړوي مې، سوزوي مې دهجران غم

چې وعدې يې دراتلو شيِ پوره نه شي
اوروي مې په زړګی کې دخفګان غم

د هجران په نا علاجه بستر پروت یم
لټوم د خپل زخمي زړګي درمان غم

هر کندر مې د زړګي په اورلمبه شو
پکې پروت دیارد میني پټ پنهان غم

د اغیاردا دوه مخی ته چې نظر شم
هیڅ يې نشته تصور کې د ایمان غم

دغربت دغه تیارې به خدای رڼا کړي
شي پوره به د خواږه زړګي ارمان غم

افغاني تکل او هوډ چې سره مل وي
شي تسل به د وختونو د دوران غم
--------------------------------
سمیع الدین افغاني
۲۵ ــ ۸ ــ ۲۰۱۸
م ۰ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ